


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې

د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي

هفته‌نامه آبادی

ګڼـــه: ۱۹ | مسلسل نمبر: ۱۰۹

سه شنبه، د صفر المظفر ۱۸مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند د تاتارســـتان جمهوریت د لومـــړي وزیر له مرستیال سره وکتل



۲ صفحه

## په کابل ښـــار کې پر دېوالونو د بریښـــنا ســـیمولو په اړه د پیغامونو لیکلو طرحه د تایید وړ وبلل شوه



۲ مه صفحه

## پـــه ننګرهـــار او تخـــار ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو جوړولو طرحې د تایید وړ وبلل شوې



۳مه صفحه



## سرلیکنه

د زمري۲۴مه د افغانســـتان د نورې خاورې ترځنګ د کابل د فتحې ورځ ده. دا ورځ د هغو نه ستړې کېدونکو هلو ځلو پایله وه چې نه یوازې د افغـــان ملت ارمان و بلکې د ټول اسلامي امت هیله او ارزو وه. هیڅ ریښتونی مسلمان دا نه غـــواړي چې هېواد یا هم د اسلامـــي امت یوه ټوټه ځمکه دې د نیواکګرو لخوا ونیول شي او هلته دې د مســـلمانانو ژوند کول د همدوی په خوښـــه وي. له نن څخه څلور کاله وړانـــدې په همدې ورځ د امریکایي اشـــغال او د هغوی د لاســـپوڅو ټغر ټول او په پایله کې یې هېوادوالو د خپلواکۍ ساه واخیسته او یو هوسا، ارام او سوکاله ژوند یې پیل کړ. د خپلواکـــۍ ویاړ هغه مهال یو ځل بیا په ولولو شـــو، چې وروستی امریکایي سرتېری د کابل له هوایي ډګره په نیمه شـــپه له خپلو پاتې شـــونو سره یو ځای په داسې حال کې ووت، چـــې افغان ولس د شـــکر ســـجدې ادا کولې او د نیواکګرو تېښـــته یې ننداره کوله. د زمري ۲۴مه د هېواد په معاصر تاریخ کې د افغانســـتان د مېړني ولس لپاره په یوه پېړۍ کې له درېیمې لویې امپراتورۍ او ښکیلاکګرو څخه د خپلواکۍ ګټلو ویاړلې ورځ ده، چې الله جل جلاله دا ویاړ د افغان مجاهـــد ولس په برخه کړ. په افغانســـتان کې د زمري په ۲۴مه د اشـــغال په پای ته رســـېدو او د کابل له فتحې وروسته، ســـملاسي د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د حکومت ټاکلو سره سم ډېر ژر په هېواد کې سیاسي خلا ډکه او حکومتي چارې په عادي حالت پیل شـــوې. په لومړي سر کې له هېوادونو سره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو جدي بحثونو او پرله پسې خبرو اترو په پایله کې د ګاونډیو هېوادونو سربېره د ســـیمې او نړۍ په کچه د افغانستان یو شـــمېر ســـفارتونه او قونســـلګرۍ بېرته عادي حالت ته را وګرځېدل. له ګاونډیو، د سیمې او نړۍ یو شمیر هېوادونو سره د ســـیاسي اړیکو د عـــادي کولو ترڅنـــګ د هېواد د اقتصـــادي ودې او پرمختګ له پاره هـــم هلې ځلې پیل شـــوې. دا مهال د هېواد اقتصادي وده ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو ده. د افغانســـتان ســـوداګرۍ پراختیـــا موندلې، صنعت وده کـــړې، د کرنې، برېښـــنا، ټرانســـپورټ، اوبو مدیریت او دې ته ورته زیاترو ســـکټورونو کې پرمختګونه رامنځته شـــوي دي. د هېواد له پاره پنځه کلنه پراختیایي ستراتیژي جوړه شوې ده چې پرمټ به یې په بېلا بېلو برخو کې ډېر پرمختګونه رامنځته شي. دغه راز د ســـوداګرۍ د پراختیا او د ســـیمې هېوادونو ترڅنګ نړیوالو بازارونو ته د افغـــاني تولیداتو د لېږد په موخه د لاجوردو دهلیز او چابهار بنـــدر په څېر د سترو لارو د فعالېدو له پاره هلې ځلې روانې دي. همـــداراز په نړیوالو اقتصادي ناســـتو کې د اسلامي امارت لوړ پوړو مســـوولینو ګډون بله ستره اقتصادي لاسته راوړنه ده. د دې له پاره ښـــه بېلګه کولای شو د کازان په شپاړسم اقتصادي فورم او د اقتصادي همکاریو سازمان په سرمشریزه کې د ریاســـت الوزراء اقتصادي مرســـتیال په مشرۍ د لوړ پوړي امـــارتي پلاوي ګډون یاد کړو. که په لنـــډه ووایو د زمري په ۲۴مـــه د اسلامي امارت له لوري د کابـــل تر فتحې وروســـته، پـــه دې څلورو کلونـــو کې په ســـیاسي، اقتصادي، بیارغونه او ټولنیـــزه برخه کې دومره مزل شوی دی، چې په تېرو شاوخوا څلورو لسیزو کې نه و ترسره شـــوی. که د هېواد د ابادۍ او اقتصادي پرمختګ مزل همداسې دوام ومومي، په نږدې راتلونکي کې به موږ نه یوازې په ســـیاسي لحـــاظ د پرمختګ لـــوړو پوړیو ته رســـیدلي یوو، بلکې له اقتصادي پلوه به هم د یو خپلواک اقتصاد څښـــتنان او هېوادوال به مو د هوســـا او ارام ژوند خاوندان وي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوريت د لومړي وزير له مرستيال سره وکتل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشتې په ۱۴مه نېټه په ارګ کې د تاتارستان جمهوريت د لومړي وزير له مرستيال او صنعت او سوداګرۍ وزير اوليګ ولاديمروويچ کورو بچينکو سره وکتل. د دې ليدنې پرمهال دواړو لورو د اقتصادي همکاريو او ګډې سوداګرۍ پر زياتوالي خبرې وکړې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې له روسيې فدراسيون څخه مننه وکړه چې اسلامي امارت يې په رسميت وپېژانده او په دې سره د دواړو هېوادونو ترمنځ ډيپلوماتيکې اړيکې نوي پړاو ته داخلې شوې. محترم ملا صاحب وويل، اسلامي امارت د روسيې فدراسيون له ټولو جمهوريتونو سره پراخې اقتصادي او سوداګريزې اړيکې غواړي او په دې اړه يې د کازان په ١٦م نړيوال اقتصادي فورم کې ګڼ شمېر مجلسونه درلودل. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، اسلامي امارت په افغانستان کې په مختلفو سکتورونو کې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې زمينه برابره کړې او له خپل لوري د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي. د محترم ملا صاحب په خبره، د تاتارستان جمهوريت کولی شي له دې فرصت څخه په استفادې په افغانستان کې د سړکونو، تونلونو، اوبو رسولو شبکو، بندونو او کورونو جوړولو، کيمياوي صنعت او همداراز له پنجشير سيند څخه کابل ته د اوبو انتقال پروژه کې پانګونه وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل او کازان ترمنځ د ګډې سوداګرۍ د زياتوالي لپاره تاتارستان ته د افغاني صادراتو پر زياتوالي او همداراز له دغه هېواد څخه د باکيفيته خوراکي توکو، درملو او تخنيکي وسايلو پر وارداتو او ددې ترڅنګ د دواړو لورو د اړوندو وزارتونو او ادارو پر ګډ کار کولو هم ټينګار وکړ. ورپسې د تاتارستان د لومړي وزير مرستيال اوليګ ولاديمروويچ کورو بچينکو خبرې وکړې. نوموړي وويل، د روسيې فدراسيون له لوري د اسلامي امارت په رسميت پېژندنې سره د تاتارستان او افغانستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د تعامل لپاره ډېر سهولتونه رامنځته شوي دي. هغه زياته کړه، چمتو دي چې له پنجشير سيند څخه کابل ته د اوبو د انتقال پروژه او همداراز نورو برخو کې پانګونې وکړي. د تاتارستان د لومړي وزير مرستيال زياته کړه، د دې سفر پرمهال د تاتارستان د صنعتي شرکتونو مسوولين ورسره راغلي او لېواله دي چې له افغانستان سره په مختلفو برخو کې همکارۍ پيل کړي. په پای کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال کابل ته د تاتارستاني پلاوي راتګ د کابل او کازان ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړيکو پراختيا لپاره د نوي او ګټور باب پيل وباله.

# په کابل ښار کې پر دېوالونو د برېښنا سپمولو په اړه د پيغامونو ليکلو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په کابل ښار کې پر دېوالونو د برېښنا سپمولو په اړه د پيغامونو ليکلو



طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخيز بحث وروسته د تخنيکي کمېټې د سپارښتنو په پام کې نيولو سره ياده طرحه د تاييد وړ وبلل شوه او د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه. د دې طرحې له مخې به پر دېوالونو او د رسنيو له لارې هغه پيغامونه ليکل او خپرېږي، چې خلکو ته د برېښنا سپمولو په برخه کې عامه پوهاوی ورکوي.

د تخنيکي کمېټې دې غونډې ته د کارګرانو ملي اتحاديې د اساسنامې د تعديل، د يادې اتحاديې جايدادونو د برخليک معلومولو او همداراز د کاري جوازونو د ورکړې او کابل ته د پنجشير سيند د اوبو انتقال پروژې په اړه ټاکل شوو کمېټو خپل راپورونه وړاندې کړل. دغه راپورونه د تخنيکي کمېټې له لوري تاييد او د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شول.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديْ

# په ننګرهار او تخار ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو جوړولو طرحې د تایید وړ وبلل شوې

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۴مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه تر ځمکې لاندې مارکېټ جوړولو طرحه د تاییدۍ لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته یاده طرحه د تایید وړ وبلل شوه. د دې



طرحې له مخې به خصوصي سکټور پر دغه تر ځمکې لاندې مارکېټ جوړولو ۹۵ میلیون افغانۍ پانګونه کوي، چې ۱۸۳ دوکانونه به ولري.

دې غونډې ته همداراز د تخار ولایت په خواجه غار ولسوالۍ کې د ښاروالۍ په ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه هم د تاییدۍ لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته دغه طرحه تایید شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د یاد سوداګریز مارکېټ جوړولو لپاره ۴۸ میلیون افغانۍ پانګونه کوي، چې ۱۰۴ دوکانونه به ولري.

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې دې غونډې ته همداراز د تخار ولایت په تالقان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه هم د بحث لپاره وړاندې شوه. د یادې طرحې د هراړخیزې ارزونې لپاره ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو یې مالي او تخنیکي اړخونه و ارزوي او خپل راپور په ټاکلي وخت د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

### آغاز فعالیت کارخانه تولید آرد در غزنی با سرمایه‌گذاری ۲.۵ میلیون دالر

یک کارخانه‌ی خصوصی تولید آرد با سرمایه‌گذاری دو و نیم میلیون دالـــر در غزنی آغاز به کار کرده اســـت. به گفته‌ی مسؤلان، این کارخانه ظرفیت تولید ۲۵۰ تُن آرد در شبانه‌روز را دارد و می‌توانـــد تا ۲۵ درصد نیازهای باشـــندگان غزنی را تأمین کند. در این کارخانه برای حدود ۲۰۰ نفر فرصت کاری فراهم شده است. بسم‌الله همدرد مسؤل کارخانه گفت: «در



این فابریکه بـــه ارزش دو و نیم میلیون دالر سرمایه‌گذاری شده است. این فابریکه در مساحت ۱۲ هزار متر مربع در پنج طبقه با معیارهای بین‌المللی احداث شده است. دستگاه‌های این کارخانه همه ترکی هســـتند.» کارگران این کارخانه از سرمایه‌گذاران می‌خواهند که با سرمایه‌گذاری داخلی، زمینه ی اشـــتغال برای شمار بیشتری از جوانان را فراهم کنند. از سوی دیگر، مسؤلان اتاق صنایع و معادن غزنی می‌گویند که در سه ســـال گذشـــته، افزون بر آغاز فعالیت ۳۳ شرکت و کارخانه‌ی جدید، حـــدود ۲۵ کارخانه‌ی دیگر که پیش‌تر به دلیل مشـــکلات متوقف شـــده بودند، فعالیت خود را از سر گرفته‌اند. عبدالرحمان احمدی رییس اتاق صنایع و معادن غزنی گفت: «ما توانستیم الحمدالله در مدت سه سال بیش از ۳۳ شرکـــت جدید را در غزنی تاســـیس کنیم و حدود ۲۵ شرکتـــی را که قبلا به ســـقوط مواجه بـــود، را دوباره فعال کنیم.» براســـاس معلومات اتاق صنایع و معادن، در حال حاضر بیش از ۱۰۰ کارخانه در بخش تولید مواد خوراکی و غیرخوراکی در غزنی فعال‌اند که پنج کارخانه از آن‌ها به تولید آرد اختصاص دارند.

# افزایش تجارت افغانستان و چین به بیش از ۵۴۰ میلیون دالر در هفت ماه

وزارت صنعت و تجارت از افزایش میزان تجارت میان افغانستان و چین خبر می‌دهد. به گفته این وزارت، دادوستد تجاری میان دو کشور در هفت ماه نخست سال جاری میلادی به ۵۴۱ میلیون دالر رسیده است. بخش بزرگی از واردات افغانستان از چین شامل منسوجات کتان، سولر، وسایل الکترونیکی و انواع موبایل است و سنگ‌های قیمتی و نیمه‌قیمتی و محصولات زراعتی نیز عمده‌ترین اقلام صادراتی افغانستان به این کشور به شمار می‌رود. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت گفت: «از این میان ۱۴ میلیون دالر صادرات و



۵۲۷ میلیون دالر واردات است. اکثر اقلام عمده صادراتی ما به کشور چین عبارت از: جلغوزه سیاه، زردآلوی خشک، سنگ‌های قیمتی و نیمه‌قیمتی بوده است. اقلام وارداتی هم عبارت از: منسوجات کتان، سولر آفتابی، وسایل الکترونیکی و انواع مختلف مبایل‌ها می‌باشد.» چین اکنون یکی از مهم‌ترین شرکای اقتصادی افغانستان محسوب می‌شود. به گفته اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری، در حال حاضر روابط کابل و بیجینگ گسترش یافته و این کشور علاقه‌مندی زیادی برای اجرای پروژه‌های اقتصادی و توسعه‌ای در افغانستان دارد. برخی آگاهان اقتصادی با توجه به اینکه افغانستان در شرایط کنونی با محدودیت‌های جدی اقتصادی و تجارتی روبه‌رو است، می‌گویند همکاری چین می‌تواند میزان اثرگذاری این محدودیت‌ها را کاهش دهد، مشروط بر آنکه روابط اقتصادی دوجانبه با افغانستان ادامه یابد. چین یکی از بازارهای بزرگ و پرظرفیت برای محصولات افغانستان است و سرمایه‌گذاران این کشور در پروژه‌های زیربنایی، از جمله معادن افغانستان، سرمایه گذاری‌های هنگفتی انجام داده‌اند؛ موضوعی که می‌تواند به رشد اقتصاد کشور کمک کند.

# درخواست رییس‌جمهور ازبیکستان برای تسریع در اجرای پروژه راه‌آهن افغان-ترانس

رییس‌جمهور ازبیکستان خواستار تسریع در اجرای پروژه راه‌آهن سه‌جانبه «افغان-ترانس» میان افغانستان، ازبیکستان و پاکستان شده است. شوکت میرضیایف می گوید پیوند این پروژه با راه‌آهن چین–قرقیزستان–ازبیکستان می‌تواند زیرساخت‌های حمل‌ونقل و همکاری های اقتصادی منطقه را متحول کند. او در این باره گفت:



«ما خواهان آن هستیم که پروژه ساخت راه‌آهن ازبیکستان–افغانستان–پاکستان هرچه سریع‌تر طراحی و اجرا شود. پیوند این مسیر آینده‌دار با راه‌آهن چین–قرقیزستان–ازبیکستان که هم‌اکنون در حال ساخت است، فرصت‌های بزرگی را برای ایجاد یک فضای نوین تجاری و اقتصادی و نیز ساخت یک شبکه حمل‌ونقل پایدار در سراسر منطقه فراهم می‌کند.» از دید تحلیل گران، افغانستان با تبدیل شدن به چهارراه ترانزیتی می تواند از عواید چشم‌گیری بهره‌مند شود. پروژه افغان-ترانس، که قرار است از طریق افغانستان، ازبیکستان را به پاکستان وصل کند، می‌تواند نقش کلیدی در تقویت روابط تجاری منطقه و کاهش هزینه‌های انتقال کالا ایفا کند. با عبور این خط آهن از خاک افغانستان، مسیر ترانزیت میان آسیای میانه و جنوب آسیا به‌مراتب کوتاه‌تر و ارزان‌تر خواهد شد. با توجه به موضع فعال ازبیکستان و افغانستان و تلاش‌ها برای جذب حمایت‌های بیشتر در سطح منطقه‌ای، انتظار می‌رود مرحله اجرایی پروژه «افغان-ترانس» در آینده نزدیک شتاب گیرد.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخــه کــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اوونيزه ابادي
هفته نامه آبادی





# د افغانستان او تاتارستان د اقتصادي همکاريو فرصتونه او وړتياوې

نجيب الله مايار

## سريزه

افغانستان چې له اشغال او څو لسيزو جګړو وروسته ډاډمن امنيت ترلاســـه کړی د بل هر وخت په پرتله د پرمختګ او سوکالۍ سخته لېوالتيا لري. د اسلامي امارت په واکمنېدو سره نه يوازې د اشـــغال تګ‌ټول شو، بلکې هغه نورې ډلې ټپلې او د قدرت جزيرې هم له منځه لاړې چې د خپلو ګټو له پاره به يې د پرمختيايي کارونو پر وړاندې خنډونه جوړول. د افغانســـتان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سياســـت په اډانه کې ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته بلنه ورکړې چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. دا يوازې بلنه نه ده بلکې په بېلابېلو سکتورونو کې يې د پانګونې فرصتونه را برسېره کړي او پـــه بېلابېلو برخو کـــې يې پانګوالو ته پـــه شرايطو کې آســـانتياوې رامنځ ته کړې دي. د رياست الوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو بهرنيو ســـفرونو کې له فرصت نه په استفادې د بهرنيو هېوادونو له چارواکو سره په ليدنو او کتنو کې د اسلامي امارت دا پيغام دوی ته رســـولی او ټولو کورنيو او بهرنيـــو پانګوالو ته يې د همکارۍ بشپړ ډاډ ورکړی دی. د همدې هڅو په پايله کې يو هم د تاتارستان جمهوريت دی چې د کازان ١٦م نړيوال اقتصادي فورم په څنډه کې اقتصادي مرستيال د دغه هېواد حکومت او پانګوالو ته افغانستان کې د پانګونې بلنه ورکړه. په وروســـتيو کې د دغه هېواد د لومړي وزير د مرستيال په مشرۍ يوه لوړ پوړې پلاوي کابل ته ســـفر وکړ او د دواړو هېوادونو د خصوصي سکټورونو ترمنځ بېلابېل هوکړه ليکونه لاسليک شول. په دې ليکنه کې د افغانستان او تاتارستان د نويـــو اقتصادي همکاريـــو او په دې برخه کې د شـــته فرصتونو په اړه لنډې خبرې کوو:

## د افغانستان او تاتارستان ترمنځ د ١٨٣ ميليون ډالرو پانګونې نوې هوکړې

د روســـيې فدراسيون د تاتارستان جمهوريت د لومړي وزير مرســـتيال او صنعـــت او ســـوداګرۍ د وزيـــر اوليـــګ ولاديميرووېچ کـــورو بچينکو په مشرۍ د دغه هېواد يوه لوړ پوړي پلاوي د روان کال د اســـد مياشـــتې په ١۴مه نېټه افغانســـتان ته ســـفر وکړ. په دغه پلاوي کې د تاتارستان جمهوريت د خصوصي سکټور استازو او سوداګرو هم ګډون درلود. پلاوي د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغنـــي برادر اخونـــد په ګډون لـــه بېلابېلو اماراتي مسوولينو سره ليدنې وکړې. په دغه سفر کې د افغانستان او تاتارستان ترمنځ د ١٨٣ ميليون ډالرو په ارزښت په نفتي او ساختماني برخو کې ســـوداګريز هوکړه‌ليکونه هم لاسليک شـــول. دا هوکړه ليکونه چې د افغانســـتان او تاتارستان د خصوصي سکټورونو ترمنځ لاسليک شوي د خوراکي توکو، د اوبـــو مديريـــت، نفت او ګاز، د بريښـــنايي وســـايلو، د مينځونکو او ساختماني توکو د توليد او د اوسپنې ويلې کولو په برخو کې دي. د دواړو هېوادونو د خصوصي ســـکټورونو غړو په کابل کې ګـــڼې ناســـتې هم درلودې چې موخه يې د افغانســـتان او تاتارســـتان خصوصي ســـکټورونو د تعامل ارزښـــت ته جدي پاملرنه وه. په دې ناســـتو کې دغه راز د تاتارســـتان له خصوصي سکټور څخه وغوښتل شول چې د افغانستان د کانونو، کرنې او طبي بوټو په برخو کې پانګونه وکړي. په دې ګډو ناســـتو کې د تاتارســـتان د لومړي وزير مرســـتيال او د صنعـــت او ســـوداګرۍ وزير پـــه بېلابېلو سکټورونو کې د خپل هېواد د محصولاتو او توليداتو په اړه هم د معلوماتو وړاندې کولو ترڅنګ د افغانستان اسلامي امارت پلاوي ته بلنه ورکړه چې د نفتو په نندارتون کې چې د اګسټ په ٢٦مه په تاتارستان کې جوړېږي، ګډون وکړي. هغه دغه راز د افغانســـتان د سوداګرۍ خونې مسوولينو ته هم بلنه ورکړه چې تاتارستان ته سفر وکړي او د دغه هېواد له سوداګرۍ خونې ليدنه وکړي. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې رييس سيد کريم هاشمي د افغانستان او تاتارستان د خصوصي سکټور د استازو او سوداګرو ترمنځ د دا ډول ناســـتو جوړول مهم بولي او له ټولو سوداګرو غواړي چې لـــه رامنځ ته شـــويو فرصتونو څخه اعظمي اســـتفاده وکړي. ښـــاغلي هاشـــمي سراسري امنيت په هېواد کې د پانګونې له پاره ښه بستر وباله او په افغانستان او له هېواده بهر يې له پانګوالو وغوښـــتل چې لـــه دې فرصت څخه په استفادې هېواد ته راستانه شي او د خپلې خوښې په سکټور کې پانګونه وکړي. هغه زياته کړه چې په دې سره به خلکو ته د کار زمينه هم برابره شي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې رييس وايي دوی به د سيمې له هېوادونو او نورې نړۍ او په تېره بيا تاتارستان سره د ســـوداګريزو اړيکو په لا ټينګښت کې جدي هڅې وکړي او ســـوداګرو ته ډاډ ورکوي چې له دوی سره هـــر ډول همکارۍ ته چمتـــو دي. د خصوصي سکټور دغه استازي د تاتارستان جمهوريت د لومړي وزير له مرســـتيال څخه وغوښتل چې افغانستان ته د معياري نفتي توکو په صادراتو کې زياتوالی راولي.

## د افغانستان او تاتارستان د اقتصادي همکارۍ له پاره شته فرصتونه

تاتارســـتان، چې د روســـيې فدرالي جمهوريـــت دی، په افغانســـتان کې د اسلامي امارت پـــه واکمنېدو يې له دغه هېواد سره د اقتصادي اړيکو د ټينګښت عملي هڅې پيل

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباديٍ
هفته‌نامه آبادی



کړي. دا هېواد له افغانستان سره د اقتصادي همکاريو پراخ امکانات لري. دا جمهوريت د روسيې فدراسيون په مرکزي برخه کې د ولګا سيند پر څنډه پروت او نږدې څلور ميليونه نفوس لري. تاتارستان د روسيې له بډايه او صنعتي پرمختللو جمهوريتونو څخه ګڼل کېږي.

د تاتارستان جمهوريت اقتصاد پر نفتو، ماشين جوړونه او نورو صنايعو ولاړ دی. بل لور ته افغانستان بيا داسې يو هېواد دی چې د طبيعي زېرمو، کرنيزو سرچينو، طبي نباتاتو او نورو کرنيزو توکو له پاره ور ظرفيتونه او د منځنۍ آسيا او سويلي آسيا ترمنځ د ترانزيټ له پاره غوره موقعيت لري او دا هېواد د زيربناوو په برخه کې پانګونې ته ډېره اړتيا لري. د تاتارستان تخنيکي ورتياوې او پانګونه او د افغانستان طبيعي سرچينې او سيمه‌ييزو بازارونو ته د وصل لېوالتيا په ګډه سره کولای شي د دواړو هېوادونو له پاره عملي او دوه اړخيزې ګټې رامنځته کړي.

## د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاريو مهمې برخې او ظرفيتونه

**۱ – نفت او ګاز**

تاتارستان د تيلو د چاڼولو په پروسه کې اوږده تجربه او پرمختللې ټکنالوژي لري چې په دغه هېواد کې د نه او نورو هېوادونو کې په دې برخه کې باتجربه شرکتونه او تجهيزات لري. افغانستان بيا د تيلو او د انرژۍ د توليد بنې ورتياوې لري چې د پرمختګ له پاره اړ دی په بېلابېلو برخو کې پانګونه جذب کړي، په دې برخه کې ګډه پانګونه او د نفتو د تصفيې خانو جوړول به د دواړو هېوادونو له پاره ښه اقتصادي ګټه ولري.

**۲ - کانونه**

افغانستان د کانونو بډايه زېرمې لري چې په بېلابېلو کچو د هېواد په بېلابېلو سيمو کې شته، ځينې يې د استخراج او پروسس په حال کې دي او د يو شمېر نورو يې د اکتشاف چارې روانې دي. اوس چې په افغانستان کې بشپړ امنيت ټينګښت موندلی، نو د دغه زېرمو د را ايستلو ښه وخت دی او اسلامي امارت هم د هېواد د اقتصادي پرمختګ په موخه د کانونو د استخراج عملي چارې پيل کړې دي. تاتارستان کولای شي د کانونو د اکتشاف، استخراج او پروسس فابريکو د جوړولو په برخه کې پانګونه وکړي.

**۳ – کرنه**

تاتارستان د کرنې او په تېره بيا ميکانيزه کرنې په برخه کې تجربه لري او افغانستان چې په دې برخو کې ډېر ظرفيتونه او سرچينې لري لېواله دی چې د کرنې، اوبو مديريت، کرنې ميکانيزه کولو، خوراکي توکو د توليد او پروسس، طبي نباتاتو او کرنيزو وسايلو د توليد په برخه کې پانګونه جذب کړي. تاتارستان که خپلې تخنيکي ورتياوې او امکانات په افغانستان کې په يادو برخو کې ولګوي نو ډېرې پروژې به پلې او دواړه لوري به مطلوبو پايلو ته ورسوي.

**۴ – سوداګري او ترانزيټ**

افغانستان د منځنۍ آسيا او سويلي آسيا ترنځ پروت او مهم جغرافيوي موقعيت لري. په هېواد کې د ترانزيت او ترانسپورت په برخه کې پانګونه او د ترانزيتي مرکزونو جوړول کولای شي دا بهير آسانه او لا ګټور کړي، په افغانستان کې د ترانزيتي مرکزونو او نورو لوژستيکي مرکزونو جوړول کولای شي د نورو هېوادونو پام دې ځای ته را جلب کړي او تاتارستان کولای شي چې په دې برخه کې له افغانستان سره ګډه پانګونه وکړي. پر دې سربېره د کور او ښار جوړول، ماشينونو توليد، تخنيکي زده کړې او بشري ځواک روزل نورې هغه برخې دي چې تاتارستان کولای شي په افغانستان کې پکې پانګونه وکړي.

## پايله

افغانستان د پانګونې له پاره خورا غوره او ډېر فرصتونه لري او اوس د بل هر وخت په پرتله د سراسري امنيت په ټينګښت سره له دې فرصتونو څخه د استفادې غوره وخت دی. پر دې سربېره افغانستان د خامو موادو، ارزانه بشري ځواک ښتن او نړيوالو بازارونو ته د خپلو دغه توکو د رسولو ډېره لېوالتيا لري. تاتارستان چې په يادو برخو کې ښه تجربه لري، په دې برخو کې د دواړو هېوادونو ګډه همکاري کولای شي، ښه پايله ورکړي. افغانستان ته د تاتارستان جمهوريت د لوړ پوړي پلاوي سفر او د دواړو هېوادونو د خصوصي سکتورونو ترمنځ د ۱۸۳ ميليون ډالرو په ارزښت د پانګونې د هوکړه ليکونو لاسليکول د دې ګټور اقدام ښه پيل دی چې په دوام سره به يې ګنو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره او د افغانستان توليدي توکي به د نړۍ بازارونو ته لاره ومومي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۸,٤۰؋ | ۶۸,٤٥؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۲؋ | ۲۳۲؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,۷٤؋ | ۰,۷٥؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۹,۸۲؋ | ۷۹,۸۸؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۶؋ | ۰,۸۶؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۸۱؋ | ۷۸۲؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۲,۱۱؋ | ۹۲,۱۸؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۲٤؋ | ۱۸,۲٥؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,٦۲؋ | ۱۸,٦٤؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,٥۲؋ | ۹,٥۳؋ |

